


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيته : 3 می 2023 ميلادی

## یـاده !

باده ژوندی یم په هوا د وطن
هرسهار راشه له فضا د وطن

ګل دنارنجونه عطرونه راوړه
خوشبويي راوړه له ښکلا د وطن

د سردرو زلفي يي ښکل کړه راشه
زه خو مين يم په ليلا د وطن

غرسه او زرکي يي دي مستی که نه
احوال يي راوړه له صحرا د وطن

زما يي ګل د نرګس ډير خوښيږي
لري په سترګو کي حيا د وطن

د وطن مينه يي په وينه کي شته
ځکه « مليار» بولي شيدا د وطن

فکر اوخيال يي د خاپوړو ځای دی
« مليار » دې نه اوسي جلا د وطن
***
عبدالحفيظ « مليار »

www.said-afghani.org - بازګشت به صفحه اصلی